DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۷۱۸

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ل

PROPERTY OF ACKU

سرکال به په هېواد کې ۲۵میلیونه نیالګي کښېنول شي

د افغانستان د کرنې وزارت وایي، چې سږ پسرلی به په ټول هېواد کې پنځه ویشت میلیونه مېوه لرونکي او نه میوه لرونکي نیالګی کښینوي. د کرنې وزارت تخنیکي مرستیال وایي، د نیالګیو د کښینولو کمپاین به په رسمي توګه د کب له پنځلسمي پیل شي، چې اوس مهال دغه کمپاین د افغانستان په ګرمسیره ولایتونو کې پیل شوی دی. د افغانستان د کرنې وزارت په هېواد کې د نیالګیو کښېنولو د کمپاین د پیل په درشل کې له خلکو وغوښتل، چې د خپلو سیمو په سمسورتیا کې برخه واخلي او د نیالګیو په کښینولو او د هغو په **۳مـــخ**

لسم کال - دویمه دوره، ۷۱۸ ګڼه، پر له پسې ۱۷۸۶ ګڼه، د ۱۳۸۸ ل ـ د کب ۱۰ مه - د دوشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د ربیع الاول ۱۴ مه د ۲۰۱۰ د مارچ لومړۍ

سیستم قضایی افغانستان نیازمند اصلاحات لازم است

ایالات متحدهٔ امریکا تلاش دارد، تا **سیستم** قضایی افغانستان را اصلاح کند.

به گزارش روزنامهٔ اراده، روزنامهٔ **امریکایی** واشنگتن پست در شمارهٔ دیروز **خود نوشت**، متخصصان حقوقی وزارت خارجهٔ **ایالات** متحدهٔ امریکا و قراردادی های مربوط، **ادارات** قضایی افغانستان را در کابل و **۳۴ ولایت** افغانستان مطالعه می کنند، تا یک **سیستم** کارا و درست را در کشور ویران **شدهٔ** افغانستان که عدالت اکثراً در آن با تعلل، انکار و یا حتا وجود ندارد، ایجاد کنند.

احساس عمومی این است که در افغانستان اصلاً عدالت وجود ندارد و یکی از شکایت ها یا ناراحتی اساسی مردم از حکومت کرزی نیز، همین موضوع است.

این احساس نیز وجود دارد که طالبان در مناطق تحت کنترول شان عدالت تعبیر خود شان را به صورت بسیار جدی به کار می برند.

پایان یافته است.

عبدالظاهر یک څارنوال از ولایت تخار به روزنامهٔ واشنگتن پست گفته است:

"در افغانستان اشخاص مظنون شکنجه می شدند. اما در این کورس تربیوی ما آموختیم که این کار باید متوقف شود، زیرا این عمل غیر قانونی می باشد. ما آموختیم که با یک شخص مظنون چگونه باید برخورد شود."

به گفتهٔ وی، مشکلات تمام سطوح **سیستم قضایی افغانستان را از پولیس** گرفته تا محاکم و زندان ها متاثر ساخته است. زیرا اینجا وکیل مدافع کافی وجود ندارد، بسیاری اشخاص مظنون بدون داشتن و یا حتا **۳مـخ**

سه تن از مسوولان وزارت امور داخله استعفاء دادند

قوماندان امنیه، معاون امنیتی ورییس تحقیقات جرایم جنایی کابل، دیروز از وظایف شان استعفاء دادند.

علت استعفای مسوولان امنیتی مذکور، حملات صورت گرفتهٔ اخیر بر شهرکابل خوانده شده، که طی آن، ۱۷تن به شمول شماری از کارمندان هندی کشته و حدود ۳۸ تن دیگر جراحت برداشتند.

یک منبع قوماندانی امنیه به شرط عدم تذکر نامش به رسانه ها گفت که لوی پاسوال عبدالرحمن رحمن قوماندان امنیه، مل پاسوال سیدعبدالغفار سیدزاده رییس تحقیقات جرایم جنایی و مل پاسوال خلیل الله دستیار معاون امنیتی، قوماندانی امنیهٔ کابل، استعفاء نامه های شان را دیروز به وزارت امور داخله فرستاده اند.

منبع مذکور معلومات بیشتری در این مورد را ارایه نکرد.

یکتن از مسوولان قوماندانی امنیه کابل، که نخواست نامش فاش شود نیز گفته است که مسوولان یادشده را روز گذشته، وزیر امور داخله خواسته بود و در مورد حملات مذکور با **ص۳**

۱۲ تنه د نشه یي توکو د قاچاق په تور محکوم شول

د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د عدلي او قضایي مرکز د څانګړې محکمې له خوا ۱۲ کسان، د نشه یي توکو د قاچاق په تور پر نغدي جریمې او بند محکوم شول.

د یاد شوي مرکز له خوا د کب پر ۹مه، په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي دي، چې دغه کسان له ببلا ببلو ولایتونو څخه نیول شوي وو. د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د عدلي او قضایي مرکز ویاند، خلیل الرحمن متوکل وویل، چې په محکوم شوو کسانو کې یو سرتېری، د خصوصي ترانسپورت شرکت استازی او د یوه بل ساختماني شرکت مالي آمر هم شامل دي.

نوموړي زیاته کړه، چې د مرکز د استیناف د څانګړې محکمې له خوا یاد شوي کسان تر ټولو زیات ۱۲ کاله بند او **۳مـــخ**

ویزهٔ کشورهای همسایه در بازار آزاد به فروش می رسد

شماری مردم از سفارت های ایران، تاجکستان و پاکستان مقیم کابل، شکایات دارند و ادعا می کنند که ویزه های این کشورها را از بازار سیاه در بدل پول گزاف، به دست می آورند.

پاکستان و ایران در قدم اول و دوم و بعدا تاجکستان، از جملهٔ کشورهایی اند که مردم افغانستان به منظور کار، سیاحت و یا روابط خانواده گی به آنجاها بیشتر رفت و آمد دارند.

از جملهٔ این کشورها، بدست آوردن ویزهٔ ایران و تاجکستان، وقت زیادی را در بر می گیرد.

مردم برای گرفتن ویزهٔ ایران، از پنج صبح در مقابل سفارت صف می بندند و تا ساعت ۹ الی ۱۰ منتظر می مانند.

میر زمان ۵۵ ساله، باشندهٔ ولسوالی پغمان ولایت کابل که مقابل سفارت ایران به خاطر اخذ ویزه ایستاده است گفت که در یک و نیم ماه نتواسته، ویزه را بدست آورد. **ص۳**

اسلامي کنفرانس یعنې څه؟

۲

نړیوال ځواکونه تر ۴۰ کالو پورې له افغانستانه نه وځي

د برېتانیا لوی درستیز یا د پوځ مشر وایي، په افغانستان کې تاوتریخوالي او جګړه به راتلونکی کال (۲۰۱۱)کمه شي، خودی تمه لري چې لوېدیځ هېواد ونه به د افغانستان له حکومت سره د امنیت او پرمختیایي چارو په برخه کې ترځلوښتو کلونو پورې مرستې ته دوام ورکړي.

جنرال ډېوډ ریچارډز، چې په خوا په افغانستان کې د ناټو ځواکونو قوماندان و، ډیلي ټیلګراف ورځپاڼې ته وویل، چې د افغانستان په سوېل کې د افغان، امریکایي او برېتانوي ځواکونو وروستیو عملیاتو طالبان ترسخت فشار لاندې راوستي دي. ډېلي ټېلګراف ورځپاڼې د ډېوډ ریچارډز له قوله همداراز ویلي، دوی فکر کوي چې په افغانستان کې تاوتریخوالی به پر ۲۰۱۱ کال پای ته ورسېږي. ده همداراز وویل چې برېتانوي پوځیان به نېایي پنځه کاله نور هم په افغانستان کې پاتې شي او تردېره حده به د دوی دنده د افغان ځواکونو روزنه وي.

د برېتانیا لوی درستیز په عین حال کې وویل، چې د افغانستان **۳مـخ**

کمبود معاشات کارمندان، عاملی در افزایش فساد در کشور

نماینده گان مردم در ولسی جرگه می گویند که کمی معاش برای ما وران سبب افزایش فساد اداری شده است.

زمری یک تن از کارمندان دولت در این راستا می گوید، از مدت ۱۸ سال به این سو در یکی از وزارت خانه های دولتی ایفای وظیفه می کند، ولی معاش وی از ۳۵۰۰ افغانی بیشتر نشده است.

زمری دارای یک پسر و شش دختر بوده ودر مربوطات ناحیهٔ دوم شهر کابل یک باب خانه را مبلغ ۳ هزار افغانی به کرایه گرفته است .

وی می گوید که معاش دولتی برای خانواده اش کافی نبوده و از عاید پسر ۱۳ ساله اش که در منطقهٔ فروشگاه شهر کابل پلاستیک فروشی می کند، زنده گی خویش را پیش می برند.

محمدکاظم کارمند وزارت سرحدات و قبایل در مورد مشکلات خویش چنین می گوید که وی دارای ده فرزند بوده و برای دولت ۲۴ سال خدمت نموده و ۳۸۰۰ افغانی در یک ماه معاش اخذ می نماید که همهٔ آن را، کرایهٔ خانه می پردازد

نثار احمد یک تن از ماموران دیگر دولتی ابراز می دارد که در یک ماه ۳ هزار افغانی معاش به دست می آورد.

به گفتهٔ وی، از ۳۰ سال به اینسو، در دولت کار نموده، مگر غیر از معاش سه هزار افغانی، امتیاز دیگری به دست **ص۳**

د عدلیې وزارت وایي:

د باګرام زندان به په راتلونکي یو کال کې د پروان پر زندان بدل شي

افغان دولت ته د دې زندان د سپارلو پربکړه هغه مهال وشوه، چې له بندیانو سره د ناوړه چلند په اړه شکایتونه راپورته شول

د افغانستان د عدلیې وزارت وایي، چې افغان دولت ته د بګرام د زندان د سپارلو بهیر به تر راتلونکي یو کال پورې بشپړ شي. د کابل په شمال کې د بګرام په هوایي ډګر کې د بهرنیو ځواکونو له خوا جوړ شوی د زندان اوسمهال د امریکایي ځواکونو له خوا اداره کېږي او په کې تر ډېره هغه کسان ساتل کېږي، چې د افغان او بهرنیو ځواکونو پر ضد په فعالیتونو تورن دي.

د عدلیې وزارت مرستیال، چې د شنبې په ورځ یې د افغانستان په دفاع وزارت کې له امریکایي پوځي چارواکو سره ددې زندان د سپارلو د بهیر په اړه معلومات ورکول وویل، چې د افغانستان د دفاع، کورنیو چارو او عدلیې وزارتونو موافقه کړې، وروسته له هغې، چې دا زندان افغان دولت ته وسپارل شي، هغه د پروان ولایت توقیف ځای ونومول: «ددې **۳مـــخ**

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

د عملیاتو تمدید،

د وژنو، کډوالیو او بیوزلو تمدید

د مارچ عملیات د پای ته رسید و په درشل کې دي، او یا پای ته رسیدلي. د بهرنیو او افغان مقاماتو له خولې، له دې ورسته په کندهار کې پراخه عملیات د دولت د مخالفینو پرضد پیلیدونکي دي. د مقاماتو له قوله، دا ډیر پراخه عملیات دي چې نړدې اتلس میاشتې به په هیواد کې دوام لري. د مارچ عملیات د دغه اتلس میاشتنیو عملیاتو سریزه وه، چې نور د پای ته رسید و په جریان کې دي، که څه هم د کندهار په اړه ملګرملتونو لا وخت له مخکې خبر ورکړي و، چې بشري حالت په دغه ولایت کې ډیر بد دي. دغه خبر په داسې حال کې خپریږي، چې افغان او بهرني مقامات په دغه ولایت کې د پراخه عملیاتو خبر ورکوي. دا چې له کندهار وروسته به د کومو سیمو نوبت راځي، په اړه یې معلومات تر اوسه نشته. په مارجه کې د طالبانو مقاومت له توقع خلاف و، دا خبره تر اوسه څوک په پوره ډاډ نه شي کولې چې په ربښتیا هم په مارجه کې عملیات پای ته ورسیدل. طالبانو په هر ځل جګړه کې له تکتیک څخه کار اخستي او بهرنیانو ته یې ښه درانده تلفات ورکړي دي. دا ځل په مارجه کې تر ډیره جګړې جبهه یې بڼه غوره کړې وه، دا هم د مخالفینو شدید مقاومت ښکارندویه دي. د عملیاتو په پیل کې طالبانو له ازادو خبریالانو وغوښتل چې د قضاوت لپاره دې سیمه وګوري. دوي دولت په جعلي تبلیغاتو تورن کړي، دولت هم ونه توانید چې په ټاکل شوې موده کې دغه عملیاتو پای ته ورسوي. په دغه عملیاتو کې بې حده زیات ولسي خلک هم په شهادت ورسیدل او په زرګونو کورنۍ. نیمروز او نورو ګاونډو ولایتونو ته کډوال شوې. که څه هم رسمي ارقام ښیي چې په مارجه کې د جګړې په ترڅ کې ټول ۲۷تنه ملکي کسان په شهادت ورسیدل، خو ښایي حقایق ددې دوه برابره نور هم لوړ وي. مخالفین او دولتي مقامات پر یو او بل ددغه وژنو پړه او د ملامتۍ بار وراچوي خو هر لوري په دې هڅه کې دي چې له دغه مسوولیته ځان پاک کړي. ددغه عملیاتو په ترڅ کې په دوه نورو ولایتونو کې بهرنیانو زیات شمیر ملکي کسان بمبار کړل، په خپله یې په دې اړه ژوري رسمي بښنې وغوښتې، معلومه نه ده چې د مارچې جګړه به په ربښتیا پای ته نوره ورسي، او کنه د پخوا په شان به د مخالفینو یو تکتیک وي چې کله په کندهار کې ددوي پرضد عملیات پیل شي. ښایي ددوي د واک او ځواک مرکز بیرته مارجه شي، یانې کله چې بهرنیان ددوي پرضد په یوه سیمه کې عملیات پیلوي، دوي هغه پریږدي او بلې سمیې ته ځي، بیرته چې کله هلته عملیات پیلیږي، دوي بیرته خپلو پخوانیو سیمو ته راګرځي. که څه هم دولت ویلي چې په مارجه کې د دولت بیرغ رپیول لنډمهاله نه دي، او دوام به ورکوي او اداري به پکې فعالوي، مګر تر اوسه معلومه نه ده چې په دغه وعده به ټینګ شي او کنه؟ په کندهار کې د عملیاتو په پیل سره ښایي په مارجه یا هلمند ولایت کې ددولت واک کمزوري او دغه کمزورتیا ددې لامل شي چې مارجه یو ځل بیا د مخالفینو په مرکز بدله شي. په پایله کې ویلي شو، چې نه یوازې دغه عملیات به اتلس میاشتې ونیسي بلکې ښایي تر دې هم پسې امتداد وکړي او ترڅنګه یې په مستمره توګه د خلکو بیوزلي، کډوالي او وژنې هم اوږدې شي. دا په داسې حال کې ده چې تجربې عملا ثابته کړې چې هیڅکله طالبان یا ددولت وسله وال مخالفین له یوې سیمې د جګړې په مټ پاک شوي نه دي، څو کاله وړاندې موسي کلا له طالبانو پاکه شوه خو تر اوسه هسې په تشریفاتي توګه پکې دولت فعاله دي او اوس هم مخالفین پکې بڼه پوره ځواکمن دي. په پیل شویو عملیاتو کې د مخالفینو کلک مقاومت هم ددې ښکارندویې کوي چې عملیات به دوام کوي او د عملیاتو له دوام سره د وژنو، بیوزلو، کډوالیو دوام به هم مل وي. او ښایي په راتلونکې کې د هیواد جنوبي سیمې د اوږدې او نامعلومې مودې لپاره د ګرمې جګړې استقبال! ته خپله غیږه پرانیزي.

اسلامي کنفرانس یعنې څه؟

تشکیلاتی او کړنیزې چارې

دویمه برخه

ع. رحمن (زلال)

په لومړۍ (د جوړښت) برخه کې مو ولوستل، چې د عثماني خلافت له منځه تللو او د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدو سره په نړۍ کې د برتانیې استعماري کړۍ ماتېدو د نویو ازاد شوو هیوادونو خپلواک دولتونو اود هغو په لړ کې د پاکستان د نوي اسلامي دولت جوړېدو او د یو ځواک په توګه د صیهونیزم د راژوندي کېدو او د مسجد الاقصی د یوې برخې سوځېدو په عربو کې په خاص ډول او په ټولې اسلامي نړۍ کې په عام ډول د کسات اخیستلو روحیه را پیدا او په نتیجه کې یې پر ۱۹۷۲ زیږدي کال د شلو اسلامي هیوادونو په ګډون د سعودي عربستان د جدې د ښار په غونډه کې د اسلامي کنفرانس بنسټ کېښود او جوړښت یې منظور شو.

اوس به په همدغه دویمه برخه کې د اسلامي کنفرانس تشکیلاتي او کړنیزې چارې راوسپړو.

د اسلامي کنفرانس په منشور او اساس نامه کې چې د سعودي عربستان د جدې د ښار په بنسټ اېښودنکي غونډه کې تصویب شوې، د لاندینۍ موخې او دندې د اسلامي کنفرانس د موخو اواهدافو او کړنلارې او اساسنامې په توګه ټاکل شوې دي.

الف: موخې (اهداف)

۱. د غړو هیوادونو ترمنځ د اسلامي پیوستون ټینګښت او غښتلي کول.

۲. د غړو هیوادونو ترمنځ د اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي او نورو بنسټیزو چارو کې د همغږۍ پراخول او له هغه څخه ننګه کول.

۳. د ټوکمیزه توپیرونو او هرډول استعمار له منځه وړل او ورکول.

۴. پرعدالت باندې د ولاړې نړیوالې سولې او امنیت لپاره لاړې چارې ټینګول، د هغو پلي کول او ننګه او ملاتړ ورڅخه کول.

۵. د مقدسو اماکنو د ازادۍ او فلسطني ملت د ټاټوبي د ازادۍ او حق اخیستنې له مبارزو څخه د نړیوالو پلویزو هلو ځلو همغږي کول او ملاتړ.

۶. د ټولو اسلامي هیوادونو د خپلواکۍ له کرامت او ملي حکومتونو ساتنه او ملاتړ.

۷. د نړۍ د اسلامي او غیر اسلامي هیوادونو ترمنځ په سوله او هر اړخیزو غبرګو مرستو کې د ژوند کولو د اړیکو ټینګول او ملاتړ.

ب: کړنلاره (اساسنامه)

۱- اسلامي کنفرانس له غړو اسلامي هیوادونو څخه جوړ دی.

۲- د اسلامي کنفرانس د اهدافو او اصولو تعقیبول.

۳- د اسلامي کنفرانس کړنیزه لارښودنه د لارښود پلاوي (هیئت رهبري) په واسطه اجراکېږي.

۴- د غړو هیوادونو د سرانو غونډه د اسلامي کنفرانس عالي مقام ګڼل کېږي.

۵- د غړو هیوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو غونډه د اسلامي کنفرانس دویم مقام دی.

۶- د اسلامي کنفرانس کړنیزې اجرایوي چارې د لارښود پلاوي له خوا ځارل کېږي.

۷- د اسلامي کنفرانس پولي (مالي چارې د لارښود پلاوي له خوا تنظیم او ځارل کېږي.

۸- له همدوله اسلامي سازمانونو سره ښه اړیکي ساتل کېږي.

۹- له غړیتوب ځخه د ایستلو چارې د سرانو د غونډې واک دی.

۱۰- د غړیتوب د ونډې (حق العضویت) اندازه د سرانو غونډه ټاکي.

۱۱. د غړو نظریات څېړل کېږي او پرېکړه پرې کېږي.

۱۲. د اسلامي کنفرانس پرېکړې د غړو ترمنځ په ډله ییزه توګه کېږي.

۱۳. اسلامي کنفرانس د خپلې اساسنامې له مخې دوه ډوله غونډې لري

۱. د اسلامي کنفرانس د غړو هیوادونو د مشرانو (سرانو) غونډه چې په هر دوه کلونو کې یو ځل جوړه او په نړیواله کچه د اسلامي نړۍ پر ستونزو باندې غور، څېړنه او د هغو د اواري په اړه پرېکړه کوي.

۲. د اسلامي غړو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو غونډه په هر کال کې یو ځل جوړه او برسېره، د هغه دندو چې د اسلامي کنفرانس منشور یې د نوموړې غونډې په مخ کې ږدي د (سرانو د غونډې) د پرېکړو پلي کول پرغاړه لري.

د اسلامي کنفرانس د ریاست او لارښود پلاوی (هیئت رهبري) د غړو هیوادونو له ټله څخه د بهرنیو چارو د وزیرانو د غونډې له خوا د یوه کال لپاره ټاکل کېږي.

کوم هیواد چې د کنفرانس ریاست پرغاړه لري، د همغه کال د بهرنیو چارو وزیرانوغونډې کور به به هم هغه هیواد وي. د سرانو غونډه هم چې د هر هیواد د ریاست په وخت کې ورسېږي. په هماغه هیواد کې جوړېږي.

د بهرنیو چارو وزیرانو د غونډې پر نوره اجندا برسېره د راتلو نکي کال رییس او لارښود پلاوي ټاکي.

د اسلامي کنفرانس مرکزي دفتر (د لارښود پلاوي د کار ځای) د سعودي عربستان پلازمېنې ریاض په ښار کې موقعیت لري.

اسلامي کنفرانس له خپل جوړښت ځخه تر اوسه (۱۰) د سرانو غونډې او (۳۴) د بهرنیو چارو د وزیرانو غونډې او له سلو ځخه اضافه د غړو هیوادونو د اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او اداري چارو په اړه پرېکړې کړې دي.

اسلامي کنفرانس خپل ټول اساسي فعالیتونه د لاندنیو څانګو په واسطه مخ ته بیایي:

۱. د اسلامي هیوادونو د احصایوي، اقتصادي، ټولنیزو او زده کړه ییزو څېړنو څانګه (SESRTCIC) په نامه یادېږي، چې د ترکیې د انقرې په ښاري موقعیت لري.

۲. د تاریخ او اسلامي هنري او فرهنګي څانګه (IRCICA) په نامه د ترکیې د استانبول په ښار کې موقعیت لري.

۳. د اسلامي تکنالوژي پوهنتون د IUT په نامه چې مرکز یې په بنګلادېش کې موقعیت لري.

۴. د اسلامي تجارت د پراختیا مرکز ICDT چې مرکز یې په المغرب، کې موقعیت لري.

۵. د سلامي پیوستون د اوقافو صندق.

۶. همدارنګه اسلامي کنفرانس په غړو هیوادو نو کې یو لړ نور اړوند سازمانونه لري، د مثال په توګه.

۷. د اسلامي تجارت اطاق د پاکستان د کراچۍ په ښار کې.

۸. د اسلامي پلازمېنو او ښارو سازمان د سعودي عربستان د ریاض په ښار کې.

۹. د اسلامي پیوستون د سپورتي لوبو فدراسیون د سعودي عربستان د ریاض په ښار کې.

۱۰. د اسلامي نړیوال هلال کمیټه په لبنان کې.

۱۱. د کښتۍ لرو نکو اسلامي اتحادیه د سعودي عربستان د جدې په ښار کې.

۱۲. د اسلامي او عربي ژبو ۳ مخ

دستگیری رهبران طالبان از چه اهمیتی برخوردار است؟

احسان پنجشیری

اعلام خبر دستگیری ملاعبدالغنی برادر و مولوی عبدالکبیر در جریان عملیات مشترکی از سوی ماموران استخباراتی امریکا و پاکستان در شهر کراچی، نشاندهندهٔ افزایش همکاری های استخباراتی میان سازمان های استخباراتی امریکا و پاکستان به منظور کشتن و یا دستگیری رهبران طالبان افغان به شمار می رود. به دنبال انتشار گزارش هایی مبنی بر دستگیر شدن ملابرادر و مولوی عبدالکبیر اولی در کراچی و دوم در صوبه سرحد، گروه طالبان این گزارش ها را رد کردند، اما اکنون مقام های پاکستان نیز تایید کرده اند که فرد شماره دو گروه طالبان و مولوی عبدالکبیر عضو شورای رهبری طالبان، در این عملیات مشترک استخباراتی دستگیر شده است. ماموران سازمان های استخباراتی امریکا و پاکستان، سیا و (آی اس آی) چند هفته پیش ملابرادر را در شهر کراچی و مولوی عبدالکبیر را در پشاور بازداشت کرده اند، اما این خبر چند روز پیش از سوی رسانه های غربی منتشر شد؛ گفته می شود، ملابرادر فرد شماره دو گروه طالبان افغان بوده و تحت رهبری ملاعمر عملیات نظامی طالبان را در جنوب افغانستان هدایت و فرماندهی می کرده است.

مقام های پاکستانی پیش از این کمتر تمایل نشان داده اند، تا گروه های متعدد طالبان افغان و به خصوص شورای رهبری این گروه مستقر در ایالت بلوچستان را هدف قرار دهند و در عوض، این کشور منابع و توجه عمدهٔ خود را بر مبارزه با تحریک طالبان پاکستانی در مناطق قبایلی شمال غرب آن کشور متمرکز ساخته اند. اما با افزایش همکاری استخباراتی پاکستان با امریکا به منظور اجرای عملیات طیاره های بدون سرنشین امریکایی در مناطق قبایلی هم مرز با افغانستان، اکنون به نظر می رسد، روابط دو کشور در جنگ علیه افراطگرایان بیشتر توسعه یافته است.

آی اس آی سازمان اس. تخبارات نظامی پاکستان بیش از هر زمان دیگر معلومات بیشتر محرمانه را در اختیار "سیا" قرار می دهد و امریکا نیز، به صورت متقابل در راستای نابودی رهبران تحریک طالبان پاکستانی، همکاری های خود را با آی. اس. آی و اردوی پاکستان افزایش داده است.

در ماه آگست سال گذشتهٔ میلادی، بیت الله مسعود رهبر سابق طالبان پاکستانی، در حملهٔ طیارهٔ بدون سرنشین امریکایی کشته شد و همچنان حکیم الله مسعود که بعد از مرگ بیت الله مسعود جانشین او تعیین شده بود نیز، توسط این طیارات به قتل رسید و اکنون در درازای نابودی رهبران طالبان پاکستانی توسط طیاره های بدون سرنشین امریکایی و چراغ سبز پاکستان به درخواست های امریکا از آن کشور برای هدف قرار دادن رهبران طالبان افغان باشد.

به باور بسیاری از کارشناسان، همکاری های استخباراتی پاکستان با امریکاییان در جریان هشت سال گذشته، اکنون به بیشترین سطح افزایش یافته است. بعد از مرگ بیت الله مسعود و حکیم الله مسعود آشکار گردید که امریکا در نابودی و دستگیری مقام ها عالیرتبهٔ طالبان پاکستانی، حمایت های آن کشور را از اسلام آباد افزایش می دهد. اکنون به باور بسیاری از آگاهان امور، انتظار می رود، هدف بعدی امریکا و پاکستان، گروه طالبان افغان مستقر در خاک پاکستان باشد. درحالی که نیروهای امریکایی و متحدان آن همراه با اردوی ملی افغانستان عملیات بزرگی را در ولایت هلمند در جنوب افغانستان راه اندازی کرده اند.

مقام ها دولت افغانستان بخصوص حامدکرزی رییس جمهور افغانستان بارها گفته است که طالبان و القاعده از آن سوی مرز داخل خاک افغانستان می شود. پناهگاه های تروریستان و القاعده در خاک پاکستان بوده و از آنجا تسلیح و تجهیز می شوند که امروز عملاً دیده شد که ملا برادر و مولوی عبدالکبیر در پاکستان گرفتار شدند و ما شاهد آن هستیم ص۳

کمبود معاشات کارمندان...

نیاورده است.
با این حال، آگاهان امور به این عقیده اند که کمبود معاشات یکی از دلایلی است که بر پایهٔ آن فساد اداری در ادارات دولتی افزایش یافته است.
حبیبه دانش نمایندهٔ مردم ولایت تخار در ولسی جرگه ضمن تایید مطلب فوق گفت که کمبود معاشات و عدم کنترول دولت در وزارتخانه ها سبب افزایش فساد اداری در کشور شده است.
وی می گوید که فساد اداری در ارگان های دولتی در سطوح بلند و پایین رایج می باشد.
او می گوید که در گذشته، در کنار معاشات برای ماموران دولت، کمک های ضروری دیگر نیز صورت می گرفت که زنده گی آنان را بهبود می بخشید.
از سوی دیگر، برخی کارشناسان به این باور اند که با گذشت هشت سال، باید سیستم معاشات برای کارمندان دولت به طور عادلانه اجراء می گردید که به دلیل کندی روند اصلاحات این امر تا کنون تحقق نیافته است. این در حالی است که پرداخت معاشات دو گونه را در ادارات دولتی، مردم یک نوع بی عدالتی عنوان می نمایند.
حبیبه دانش می گوید که تفاوت در معاشات کارمندان دولتی سبب بی عدالتی در میان کارمندان شده است؛ بدین لحاظ، دولت باید مطابق مقررهٔ معین، معاش کارمندان را به طور عادلانه تنظیم نماید.
ازسوی دیگر، عزیز شمس سخنگوی وزارت مالیه می گویدکه سیستم افزایش معاشات از سوی کمیسیون اصلاحات اداری در یک تعداد وزارتخانه ها عملی شده و در آیندهٔ نزدیک، در وزارت های دیگر نیز این سیستم عملی می شود.
گزارش هایی وجود دارد که برخی سفارتخانه ها و موسسات نیز، برای یک تعداد کارمندان دولت معاشات امتیازی توزیع می نمایند و این در حالی است که به گفتهٔ سخنگوی وزارت مالیه، رییس جمهور کشور در شورای وزیران کمسیون یی را ایجاد نموده، تا معاش این گونه کارمندان را بر طبق معیار های افغانی، از طریق دولت اجراء نمایند.
با آنکه شکایات زیادی از چند سال بدینسو در مورد کمی معاشات ماموران دولتی وجود دارد، اما روند اصلاحات اداری در کشور به کندی پیش می رود، طوری این روند، نتوانسته سیستم معاشات را به طور عادلانه تنظیم نماید.

دستگیری رهبران...

و از جامعهٔ بین المللی خواهان آن هستیم که قرارگاه و مراکز سازماندهی شورشیان را در آن طرف مرز هدف قرار دهند. همچنان دولت افغانستان همیشه از طالبان خواسته است، تا به میز مذاکره حاضر شوند که درخواست نیز از سوی طالبان رد شده است. اما حالا جنگ در افغانستان وارد مرحلهٔ جدیدی شده است و افزایش فعالیت استخباراتی نظامی امریکا در پاکستان می تواند، ضربهٔ جدی یی بر شورای رهبری طالبان وارد آورد.
علاوه بر اینکه امریکا کمک های نظامی خود به پاکستان را به صورت قابل توجهی افزایش داده است، فشارهای دیپلوماتیک واشنگتن بر اسلام آباد برای مبارزه با طالبان افغان مستقر در خاک آن کشور نیز، یکی از عوامل اساسی، متقاعد شدن مقام های پاکستانی به اقدام علیه رهبران طالبان افغان به شمار می رود. درحالی که پیش از این، مقام های پاکستانی به صورت آشکار از طالبان حمایت می کردند و حتا در زمان حکمروایی آن ها، اولین کشوری که رژیم طالبان را به رسمیت شناخت، پاکستان بود.
اکنون سازمان استخباراتی امریکا با جلب موافقت مقام های پاکستانی، حملات هوایی خود در شمال غرب پاکستان را به طرز بی سابقه یی افزایش داده است. طیارات بدون سرنشین امریکا در جریان یک سال گذشته صدها تن از شورشیان و تعدادی از رهبران عالی رتبه آن ها را به قتل رسانده است و عمده ترین منبع استخباراتی "سیا" در این حملات، سازمان استخباراتی پاکستان بوده است.
در عین حال، از آنجایی که دستگیری ملابرادر و مولوی عبدالکبیر همزمان با گفتگوهای مذاکره با طالبان و عملیات گستردهٔ نظامی در ولایت هلمند صورت می گیرد، به باور اغلب آگاهان امور، این رویداد می تواند، یکی از نقاط عطفی در تضعیف گروه طالبان باشد. کارشناسان این رویداد را گام مهمی در تطبیق استراتیژی دو بعدی امریکا به منظور سرکوبی طالبان در صحنهٔ نبرد و همچنان مذاکره با آن ها می دانند.
اما اهمیت عمدهٔ این رویداد در آن است که علی رغم آنکه سازمان استخباراتی امریکا در جریان سال های گذشته نیز، در خاک پاکستان فعال بوده، ولی این اولین باری است که یکی از رهبران ارشد طالبان افغان و عضو کلیدی شورای رهبری طالبان موسوم به "شورای کویته" در خاک پاکستان هدف قرار می گیرد و در عملیات مشترک سیا و آی. اس. آی دستگیر می شوند.
دستگیری ملابرادر و مولوی عبدالکبیر در واقع چراغ قرمزی برای طالبان افغان است که آن ها بعد از این به هیچ وجه در خاک پاکستان مصئون نبوده و همانند سابق از آزادی عمل برخوردار نخواهند بود. از آنجایی که دولت تأکید کرده که از مذاکره با طالبان حمایت می کند، دستگیری دو تن از عالیرتبه ترین رهبران طالبان، این گروه را تحت فشار قرار می دهد، تا به طرح "مذاکره" تن در دهد و در غیر آن صورت، همکاری های پاکستان با امریکا برای شکار رهبران طالبان افغان ادامه خواهد یافت.

ویزهٔ کشورهای همسایه ...

وی، می گوید که خانم اش بیماری شش دارد و می خواهد، غرض تداوی وی را به ایران ببرد.
میرزمان، همچنان گفت که بعد از انتظار زیاد؛ شماری از مردم برایش سرای شهزاده (بازار تبادلهٔ اسعار) را آدرس دادند.
به گفتهٔ موصوف، در یک صرافی سرای شهزاده برایش گفته شد که برای ویزهٔ سه نفری، باید ۲۵۰۰ دالر بپردازد.
اما وی می گوید، که پرداخت این رقم از توانش بالاست.
میرزمان خاطر نشان ساخت که حالا از شورای ملی مکتوب گرفته و امیدوار است که در گرفتن ویزه برایش ممد واقع شود.
زهرا صفدری دختر جوانی است که برای دیدار اقاربش دو ماه قبل به کابل آمده است.
وی می خواهد، دوباره ایران برود و با خانواده اش یکجا شود، اما می گوید که برایش گفته شده که تا دو ماه باید منتظر بماند.
صفدری گفت، وقتی برای اخذ ویزه به سفارت مراجعه کرده است، به وی نیز گفته اند که باید دوماه منتظر باشد.
وی می گوید، وقتی از سفارت ناامید شد، یکی از اقاربش شمارهٔ تیلفون کمیشنکار را برایش داد و وقتی که با او تماس گرفت، برایش گفته شد که در مقابل ۱۰۰۰ دالر در چهار روز ویزه برایش می گیرد.
وی افزود: " بنابراین، مجبور هستم، برای یک ویزه ۱۰۰۰ دالر بپردازم!" یکی از کمیشنکاران که نخواست نامش گرفته شود، در این خصوص گفت: " ویزهٔ ایران برای سه نفر که یک بچه و پدر و مادر باشد؛ دوهزار دالر است و اگر برای یک نفر باشد، از ۱۲۰۰ دالر کمتر نمی شود."
سفارت تاجکستان یکی دیگر از سفارت خانه هایی است که بیشتر مردم در گرفتن ویزه در آنجا، دچار مشکل هستند. رامش ۲۳ ساله که برای گرفتن ویزه به این سفارت مراجعه نموده و می خواهد غرض سیاحت به تاجکستان برود، می گوید که به اخذ ویزه موفق نشده است. وی گفت که سفارت تاجکستان برایش گفته است که بدون دعوت نامه و یا امر وزارت خارجه، ویزه داده نمی تواند. اما رامش خاطر نشان می کند که کمیشنکاران، ویزهٔ تاجکستان را در ظرف دو ساعت در بدل ۴۰۰ دالر برایش آماده می کنند. وی همچنان اظهار داشت که ویزهٔ تاجکستان در تکت فروشی های شهرنو به ۶۰۰ دالر امریکایی به فروش می رسد. یکی از کمیشنکاران ویزه گفت که آنها ویزهٔ یکماههٔ تاجکستان را در بدل ۴۵۰ دالر، می توانند، در کمترین فرصت تهیه نمایند.
وی گفت : "توبیا برایت یک چاره می کنم، اما نرخ واجبیش ۴۵۰ دالر است."
ویزهٔ پاکستان به شکل قانونی در سه روز گرفته می شود؛ اما اگر شخصی بخواهد، عاجل آنرا بدست بیاورد، باید تا ۷۰۰۰ افغانی بپردازد.
حسیب یکی از متقاضیان ویزهٔ پاکستان می گوید که می خواهد، مریض را به پاکستان انتقال نماید.
وی گفت که از صبح وقت به سفارت می آید؛ اما نوبت برایش نمی رسد.
حسیب افزود: "وقتی به یک نفر گفتم که من مریض دارم و می خواهم زودتر ویزه بگیرم گفت که دو صد دالر با پاسپورتت بده و سبا بیا ویزه کرده بگیر."
یکی از کمیشنکاران در این زمینه گفت: "اگر ویزه را همان روز بخواهی ۷ هزار افغانی و اگر دو روز بعد می خواهی دو هزار افغانی می گیرم، کارهات را راه می اندازم.." با وجود ادعاهای مردم و اظهارات کمیشنکاران، مسوولان سفارتخانه های یادشده، این ادعاها را نمی پذیرند.
یکی از مسوولان مطبوعاتی سفارت ایران که از گرفتن نامش خودداری کرد گفت، آنان در توزیع ویزه محدودیت دارند؛ زیرا بیشتر کسانی که به ایران سفر می کنند، پس بر نمی گردند.
موصوف فروش ویزه را در بازار سیاه رد نموده گف : "به جز از کسانی که از طریق وزارت خارجه معرفی می شوند؛ هر کسی دیگر که تقاضای ویزه را دارد، باید فورم پرکند و در صندوق بیاندازند و هر هفته قرعه کشی می شود." به گفتهٔ موصوف، آنها هفته وار مطابق لست از طریق قرعه کشی ویزه می دهند؛ اما وی در مورد اینکه در هفته به چند تن ویزه توزیع می شود؟ هیچ توضیحی ارایه نکرد.
شهاب الدین مسوول بخش فرهنگی سفارت تاجکستان، پذیرفت که در صدور ویزه به منظور جلوگیری از ناامنی ها قیودات را وضع نموده است.
وی می گوید که به همین دلیل، اکنون کسانی که خواهان اخذ ویزهٔ تاجکستان هستند، یا باید دعوت نامه داشته باشند و یا از طرف یک ادارهٔ دولتی معرفی شوند.
وی فروش ویزه را در بازار رد نکرد، اما گفت که در این مورد سفارت دست ندارد و شماری از افراد از دوستی و شناخت سوء استفاده می کنند و ویزه را به فروش می رسانند. قرار معلومات موصوف، در سال گذشته، از سوی سفارت تاجکستان ماهانه، ۵۰۰ تا ۱۰۰۰ ویزه توزیع می شد، اما از یک سال بدینسو، از ۱۰۰ تا ۳۰۰ ویزه توزیع می شود. غلام محمد وزیر، آتشهٔ مطبوعاتی سفارت جمهوری اسلامی پاکستان، گفت که قبلا در صدور ویزه مشکلاتی وجود داشت، زیرا آنها روزانه فقط،۱۰۰ ویزه را صادر می کردند، اما حالا به اساس تقاضای مردم تعداد آنها تا ۱۲۰۰ رسیده است.
وی افزود: "این نشانهٔ دوستی پاکستان و افغانستان است." وی می گوید که متقاضیان ویزه، باید فورمه را خانه پُری کنند و بدون پرداخت پول به کمیشنکاران، در مدت سه روز ویزه اش را بدست آورند.
به گزارش خبرگزاری پژواک، غلام محمد افزود که کسانی که شکایت داشته باشند و یا کسی از آنان برای اخذ ویزه پول تقاضا کنند، می توانند، با شماره هایی که بیرون از سفارت نصب نموده، تماس بگیرند.
اما حالا در بیرون از سفارت کدام شماره یی به نظر نمی خورد.

د باگرام زندان به په ...

تفاهم لیك له مخې د بګرام د زندان حقوقي موقف، چې پس له دې به د پروان د توقیف ځای په نامه یادېږي، بدلون ومومي او پس له دې به په هغو بندیانو، چې هلته ساتل کېږي، د افغانستان جزایي قوانین پلي شي او همدارازد محابسو او توقیف ځایونو قانون به پر دوی پلی شي.» د بګرام دا زندان پر ۲۰۰۱ زېږدې کال پر افغانستان باندې د امریکا په مشرۍ د نړیوال ایتلاف تر برید وروسته جوړ شوی او اوسمهال په کې اته سوه کسان، چې د بهرنیو ځواکونو په عملیاتو کې نیول شوي بندیان دي. د امریکایي ځواکونو له خوا د ورکړل شوو معلوماتو له مخې په دې بندیانو کې یو دیرش کسه بهرني وګړي هم شامل دي. د امریکا متحدو ایالتو په دې زندان یو شپېته میلیونه ډالره لګولي او په پام کې لري، تر هغو پورې، چې افغان دولت د دې زندان د لګښتونو ورتیا مومي، د هغه لګښتونه پرخپله غاړه واخلي. په افغانستان کې د امریکا د توقیف ځایونو مسوول جنرال هرورډ، چې په دې خبرې غونډه کې یې خبرې کولې، د دې زندان د لګښتونو په اړه وویل:« له افغان دولت سره زموږ د مرستو ژمنه په خپل ځای ده او تر هغو، چې افغان دولت غوښتي وي، موږ ورسره خپلو مرستو ته دوام ورکوو. زه غواړم دا بیا ووایم، چې دا پرېکړه افغان دولت پورې اړه لري. » افغان دولت ته د دې زندان د سپارلو پرېکړه وروسته له هغې وشوه، چې په افغانستان کې دننه او بهر په دې زندان کې له بندیانو سره د ناوړه چلند په اړه شکایتونو زور واخیست. افغان دولت هم په پام کې لري، چې د دې زندان له ورسپارلو وروسته هلته د شتو بندیانو دوسیې له سره وڅېړي. د ازادي راډیو د رپوټ له مخې، د کورنیو چارو وزارت وایي، چې دا کار به تر ډېره دوی پرمخ بوځي او د بندیانو دوسیې به په ټول دقت سره له سره مطالعه کړي. کتونکي او د بشر د حقوقو خپلواکې اداري افغان دولت ته هم دا سپارښتنه کوي، وروسته له هغې، چې دا زندان تسلیم شي، باید له بندیانو سره د نړیوالو اصولو په رنا کې چلند وکړي.

نړیوال ځواکونه تر ۴۰ کالو...

له حکومتي ادارو او پرمختیایي چارو سره به د برېتانیا مرستې ممکن څو لسیزې نورې دوام وکړي. ده له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو د وتلو په اړه وویل، چې راتلونکی کال به په افغانستان کې د نړیوالو پوځیانو شمېر کم شي، خو اکثره نړیوال عسکر به تر ۲۰۱۵ پورې له افغانستانه ووځي.
حاضرده مه برېتانیا په افغانستان کې شاوخوا لس زره پوځیان لري، چې لویه برخه یې د هلمند په ناکرار ولایت کې ځای پرځای ده.
د ازادي راډیو د رپوټ له مخې، د برېتانیا لوی درستیز په افغانستان کې د ماتې پر وړاندې خبرداری ورکړ او ویې ویل: فکر نه کوم چې موږ دې په افغانستان کې ماته وزغملای شو، ځکه چې له دې سره به د دیموکراسۍ او ازادۍ مخالفان لا وهڅېږي.

۱۲ تنه د نشه یي توکو ...

یو میلیون او ۵۰ زره افغانۍ نغدي جریمه او کم مجازات پنځه کاله بند او پنځوس زره افغانۍ جریمه شوي دي.
د هغه په وینا، له محکوم شوو کسانو څخه له شپږ کیلو ګرامو څخه زیات هیروېین، ۱۱۱ کیلو ګرامه تاریاک، د نشه یي توکو په جوړولو کې کارېدونکي ۱۱۱ کیلو ګرامه تېزاب ترلاسه شوي دي. متوکل وایي، چې په محکوم شوو کسانو کې یې یو تن د هرات، څلور د ننګرهار، دوه تنه یې د کاپیسا، یو د کابل، دوه د بلخ او دوه نور د هلمند اوسېدونکي دي. نومورې وویل، چې یاد شوي کسان په ببلا ببلو سیمو کې د نشه یي توکو د قاچاق پرمهال د امنیتي موظفینو له خوا نیول شوي وو. هغه زیاته کړه: «دغو کسان له خپلو حقوقو څخه د دفاع لپاره مدافع وکیل لرل او په یوه علني محکمه کې محکوم شوي دي.» د پژواك د رپوټ له مخې، د یاد شوي مرکز د معلوماتو له مخې، په تېرو نهو میاشتو کې د نشه یي توکو د ۳۵۴ تورنو کسانو قضیې دې مرکز ته راوړل شوي، چې تراوسه ۳۹۴ محکوم شوي او ۳۳ نور یې بري الذمه اعلان شوي دي.
سرچینې زیاته کړې، چې په محکوم شوو کسانو کې ۲۱ تنه د عامه خدمتونو مامورین او ۱۰ تنه نور یې بهرني اتباع دي. د یادونې ده، چې تېره اونۍ هم د یاد شوي مرکز د محکمې له خوا یو شمېر کسان پر بند او نغدي جریمې محکوم شوي وو.

سړکال به په هېواد کې...

ساتلو کې بشپړه همکاري وکړي.
کرنې وزارت تخنیکي مرستیال غلام مصطفي جواد وایي، یوازې درې میلیونه نیالګي د کرنې وزارت له خوا کنېپنول کېږي، چې په هغې کې شپږ شپېته زره میوه لرونکي نیالګي دي او پاتې نور، چې زینتي نیالګي دي د بېلابېلو موسسو له خوا به کنېپنول شي. بشاغلی جواد وایي، چې د کرنې وزارت دا ځل غواړي د نیالګیو د اېښودلو دا کمپاین د خلکو په مرسته نا امنه سیمو ته هم وغځوي. د بشاغلي جواد پر وینا هر کال افغانستان ته د پسرلۍ په موسم کې له ګاونډیو هېوادو په ځانګړې توګه له پاکستان څخه په قاچاقي ډول نیالګي راځي، چې د ده په وینا د افغانستان له خاورې او اوبو سره اړخ نه لګوي.
نومورې له خلکو وغوښتل، چې قاچاق شوي نیالګي دې نه کنېپنوي، ځکه چې د ېر ژر وچېږي او هېڅ ګټه نه لري. د ازادي راډیو د رپوټ پر بست، د کرنې وزارت وایي، که چېرې په افغانستان کې د طبیعي ځنګلونه او څړځایونه له منځه لاړ شي، نه یوازې د انسانانو ژوند، بلکې د ژویو او مرغانو ژوند ته هم یو لوی ګواښ دی.

اسلامي کنفرانس...

۲۶. د بنونځیو نړیواله اتحادیه د سعودي عربستان د ریاض په ښار کې
۲۷. د اسلامي کنفرانس د ځوانانو اتحادیه د ترکیې د استانبول په ښار کې
۲۸. د مسلمانو مخکښانو نړیواله اتحادیه
۲۹. د اسلامي مصرفي او مالي موسسو نړیواله اتحادیه
۳۰. په اسلامي هېوادونو کې د سلاکارانو اتحادیه
۳۱. د اسلامي علومو او تکنالوژي نړیواله اکاډمي

پورتني سازمانونه د کنفرانس د اساسي څانګو په توګه د غړو هېوادونو په ځانګړو برخو کې چوپړ پرغاړه لري. په اسلامي کنفرانس کې د ټولو اساسي څانګو او اړونده سازمانونو کار او فعالیت د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو د کلنۍ غونډې له لارې لارښودنه، سامبالتیا او څارنه کېږي.

سه تن از مسوولان وزارت...

با ایشان نشست داشت. اما وزارت امور داخله، تاکنون در این مورد، به گونهٔ رسمی چیزی نگفته است.

حملات انتحاری، صبح تاریخ ۷ حوت در ساحهٔ چهارراهی انصاری و پارک شهرنو کابل بالای مهمانخانه های آریانا و پارک ریزیدنس صورت گرفت.

سیستم قضایي افغانستان ...

دیدن وکیل مدافع به حبس محکوم می شوند، در حالی که داشتن وکیل مدافع در قانون اساسی افغانستان درج شده است.
به نوشتهٔ روزنامه، همه به این موافق هستند که اشخاص پولدار و با واسطه به ندرت مجازات می شوند.
څارنوال و قاضی با داشتن ۲۰۰ دالر معاش در ماه بارها رشوت می گیرند و به اصطلاح از حق چشم پوشی می کنند.
اما دیوید جانسن معاون وزارت خارجهٔ امریکا برای امور مواد مخدر و تطبیق قانون گفت:
"این یکی از چالش هایی است که ما در افغانستان با آن مواجه می باشیم. مردم باید اعتماد کنند که عدالت تامین می شود. دفتر ما با پولیس و څارنوالی کار می کند، تا یک سیستم کمپیوتری قضایا را در محاکم انکشاف بدهد. برای این کار یکصد میلیون دالر در نظر گرفته شده و قرار است، در سال آینده این مقدار دو چند شود."

د جګړه مارو سیالی:

د مارچې عملیات او د کابل بنار چاودنې

میاګل آروال

سوله او جګړه دوې اړوندې او تړلې کلیمې دي، چې ډېر ځله یو بل سره نقضوي یا یې له منځه وړي. یاني دا چې کله سوله وي، جګړه نه وي او کله چې جګړه پیل شي، نو سوله سیمې نه کډه کوي یا په بله ډله چې سوله وي. هلته امن او سوکالي وي. ځینې، ښېرازې او آبادي وي، وګړي د ژوند او ټولو رواوو حقوقو څخه برخمن وي او کله چې د جګړې اور په لمبو شي، نو بیا دغه ستر انساني اهداف په کې سوځېږي.

مورږ له ډېرو فلسفي او ایډیالوژیکي خبرو تېرېږو، یوازې په خپل هېواد کې دغه دواړه ټکي څېړو او په اوسنیو شېبو کې د سولې او جګړې توند بهیر ته ژوره کتنه کوو.

جګړه په افغانستان کې:

نژدې ۳۰ کاله وشول، چې زمورږ پر هېواد او خلکو باندې د دوی د عقیدې او خاورې پر ضد د بهرنیانو او د هغوی د نوکرانو له خوا یوه پردۍ جګړه وتپل شوه، چې اوسنی بهیر یې هم د پردیو په لاس پرمخ بېول کېږي. د دې پر ځای چې د دې جګړې د پای ته رسېدو لپاره کار وشي، د سولې د راوستو لپاره اغېزمنې هلې ځلې وشي، لا یې لمبو ته لمن وهل کېږي. په دې بهیر کې زمورږ ګوته د جګړې ټولو خواوو او پلویانو ته ده، دا ځکه چې دواړه خواوې ملکي وګړو ته تاوانونه رسوي.

د خواشینۍ ځای دی، چې د روانې جګړې پردي اړخونه د خپلو شومو اغراضو د عملي کولو له امله زمورږ په هېواد کې پر هر څه اور لګوي، نه وچ ګوري نه لامده، نه ملامت ګوري او نه سلامت. له بده مرغه چې دغه بهیر اوس د جګړه مارو ترمنځ پر سیالي بدل شوی، د مثال په ډول په داسې حال کې چې د هلمند ولایت د مارچې په سیمه کې پوځي زورور عملیات د ترسره کېدو په حال کې دي او د کابل بنار د نوي بنار په انصاري واټ د ستې سنټر په ساحه کې ډېر سخت خطرناک ځان مرګي بریدونه وشول. په دې دواړو جګړو کې زمورږ هېوادوالو ته بشري، اقتصادي، اجتماعي او معنوي تاوانونه اوښتي دي، دا دواړه پېښې د دوی د سیالي نتیجه ده.

د دې دوو پېښو علتونه:

زما په نظر داسې ګونګسي اوربدل کېږي، چې نور نو باید افغانستان ته سوله راوستل شي او جګړه دې پای ته ورسېږي. په دغه بهیر کې د جګړې دواړه اړخونه داسې اټکل کوي، چې ګواکې دوی هر یو ځان پیاوړی او غښتلی ښایي. دوی غواړي، خپل ځانونه داسې ځواکمن وبولي، چې پر یو بل باید د سولې د منلو او خبرو په ترڅ کې یو څه لورتیا ولري او یو بل مجبور هم اټکل کوي، نو ځکه دغه نه بښونکي جرمونه چې ملکي وګړي په کې قرباني کېږي، د دوی د قدرت غوښتنې په ناوړه هیلو ترسره کېږي، یاني دا چې دوی غواړي په خپله ګټه له یو بل نه څه امتیازونه واخلي.

دا ۳۰ کاله وشول چې زمورږ پر دین او وطن مین ولس د لورتیا غوښتنو لپاره د پردیو په لاس د پیل شوی جګړې له امله بدمرغه کېږي. دا چې پردیان پردي اهداف لري، خو د دوی ترڅنګ یو شمېر کورني بهرني پلویان لا تراوسه هم پر جګړې او جګړه ماري ویاړ کوي. جګړه، قتل او قتال یو جرم، خیانت او ظلم دی او پر هغو ویاړل د هغه جرم او خیانت تکرار دی، چې هغومره ګناه لري.

وړاندیزونه:

د هر سالم، پاک او سپېڅلي وجدان خاوند افغان د خپلې مېنې او ولس پر روان حالت باندې خواشینی دی، تل په دې هکله چې که یې زور رسېږي یا نه، ژور فکرونه کوي او د خپل توان په اندازه د دغه غیرانساني او سړي وژونکې جګړې د بندولو لپاره د حل لارې چارې لټوي، مورږ دې لاندې ټکو سخت اند پښمن کړي یو:

- دواړه جګړه مارې خواوې او د هغوی بهرني پلویان دې نور زمورږ هېواد دجګړې پر ډګر نه بدلوي.
- نور دې د جګړې د تکتیکونو او وسلو ازمېښتونه زمورږ په مېنه کې بند شي.
- که څوک پر اسلامیت عقیده لري او څوک پر بشریت، همدغه ارزښتونو ته دې په پاملرنې سره د جګړې د دوام پر ځای د سولې او تفاهم لار غوره کړي.
- دوی دې افغانانو ته د الله جل جلاله د مخلوق په سترګه وګوري، نه د خپل مخلوق او یرغملو په څېر.
- ملګري ملتونه دې، نور د یو شمېر زبرځواکونو له واک څخه ووځي او د افغانستان پر روان حالت دې له سره کتنه وکړي او په تېرو اتو کلونو کې دې پر خپلو غلطیو اعتراف وکړي.
- امریکایان دې نور د نړیوالو په ستر ګو کې خاوري نه اچوي، خپلې غلطۍ دې نورې نه پټوي.
- په افغانستان کې د بهرنیو پوځونو لرونکي هېوادونه دې له خپلو تېټ رتبه عسکرو وپوښتي، چې په افغانستان کې څه روان دي؟ دوی څه کوي؟ او د دوی دولتونه خپلو خلکو ته څومره رښتیا وایي؟
- ایا بهرنیانو زور ازمویل او سیالي سره پرتله کړې؟ ایا دوی باور لري، چې جګړه پر جګړې پای ته رسېدلای شي؟ وینه پر وینه مینځل کېږي؟ که له دوی سره د افغانانو د ژغورنې هدف وي، ایا جګړه یې د حل لار ده؟
- ایا په اسلامي نړۍ او لوېدیزه نړۍ کې مسلمانان او سوله دوست وګړي سترګې او غوږونه لري؟
- ایا دوی کله هغه څه ته پاملرنه کړي، چې په افغانستان کې د څه لپاره او له چا سره جګړه روانه ده؟
- ایا په افغانستان کې د بهرنیو پوځونو مېندو او پلرونو کله له خپلو بچیانو پوښتلي، چې تاسې د څه لپاره تللي یاست او څه کوئ؟
- که بهرني هېوادونه، چې د امریکا د حکومت په امر افغانستان ته راغلي، زمورږ د سولې پلوي کوي، واک دې افغانانو ته ورکړي.
- بهرنیان دې په بېلابېلو پلمو زمورږ په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي.
- بهرنیان او پوځونه یې باید زمورږ د ددین، وطن او ولس له ځپلو ډډه وکړي.

جوانان ناامید به صفوف جهادیان می پیوندند

منبع: نیویارک تایمز

بیکاری حاد در پاکستان بسیاری از جوانان این کشور را به سوی شبکه های تندرو سوق می دهد. بسیاری از جوانانی که حتا با داشتن سند تحصیلی عالی نمی توانند، شغلی پیدا کنند، جذب شبکه های جهادی می شوند. یکی از این افراد یک محصل طب بود که پس از فارغ التحصیلی و پیدا نکردن شغل مناسب، به جای تداوی مریضان، به یکی از ماهرترین تندرو پاکستانی تبدیل شدکه تحت کنترول یکی از عوامل القاعده جزو شبکه یی شد که به گفتهٔ پولیس لاهور، بعضی از جسورانه ترین حملات را بر ضد دولت پاکستان ومردم آن طی سال گذشته انجام داد. تعقیب چند ماههٔ وی در نهایت در ۱۹ فبروری با کشته شدن او در سن ۲۹ سالگی در تیراندازی با پولیس خاتمه یافت.

این افراد- جنگجویان تحصیل کرده یی از طبقهٔ متوسط - بخشی از نسل جدیدی هستند که شبکه های تندرو در پاکستان را پیچیده تر و مرگبارتر کرده اند. القاعده از بلند پروازی بی ثمر و خشم آنها از اتحاد پاکستان و امریکا، بهره برداری کرده است.

یک مقام رسمی پولیس ایالت پنجاب دربارهٔ این افراد گفت: اینها از نقشه های گوگل برای طراحی حملات شان استفاده می کنند و آموزش آنها بهتر از اکادمی ملی پولیس است.

اما بسیاری از این افراد متولد نسل دههٔ نود هستند که جهاد یک سیاست دولت بود با هدف به چالش کشیدن کنترول هند بر کشمیر و گروه های جهادی علنا در پوهنتون ها جذب می شدند. اکنون تحت نفوذ القاعده انرژی شان تغییر جهت یافته و به سمت داخل و بر ضد دولت و مردم پاکستان به کار گرفته شده است.

این تغییر موضع موجب شکاف در شبکه های تندرو دیرینه شده است که زمانی تحت حمایت دولت پاکستان بودند و تشکل های جدید مختلفی ایجاد شده است که به آسانی قابل دسته بندی نیستند.

طارق پرویز مدیر سازمان ملی ضد تروریزم در اسلام آباد می گوید، وضعیت کنونی کاملا مخدوش است. دیگر نمی توان صحبت از سازمان کرد. اکنون مسألهٔ شبه نظامیان همفکر مطرح است.

این روند نتیجهٔ مرگباری داشته است. در سال ۲۰۰۹ بیش از ۳۰۰۰ پاکستانی در حملات تندروان کشته شدند که سه برابر اینگونه تلفات در سال ۲۰۰۶ بود.

این یک مسأله اضطراری است. پاکستان در بحبوحهٔ افزایش جمعیت جوانان این کشور قرار دارد که سالانه بیش از یک میلیون تن از آنها روانهٔ بازار کار می شوند و رشد اقتصاد این کشور- با نرخ رشد کنونی اش- آنقدر سریع نیست که برای جذب آنها کافی باشد. فقط بخش کوچکی ستیزه جویی را انتخاب می کنند، اما بیکاری حاد این خطر را تشدید می کند.

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) فغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : نبي "پیاوړی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com